# د پښتو ژبې د تېما د کنفرانس لنډ رپورټ
# *Tema modersmåls konferens 2009*

په سویډن کې زموږ د ګڼو کنفرانسو د جملې څخه یو هم د سږ کال ( ۲۰۰۹ ) کنفرانس وو . دا کنفرانس د ۲۰۰۹ میلادي کال د ډیسمبر د میاشتې پر ځلورمه نېټه پیل سو . په دې کنفرانس کې نه یوازې د سویډن په هیواد کې د پښتو ژبې ښوونکو ګډون درلود بلکې د ګاونډي هیواد ډینمارک څخه هم د پښتو ژبې ځلورو تنو ښوونکو ګډون کړئ وو . په کنفرانس کې سربېره پر پښتو ژبو افغانانو د ناروې د هیواد څخه دوو تنو چې په پښتو ژبه یې خبرې کولې ګډون درلود.
کنفرانس د ګډون کوونکو له خوا په خپله لنډه پېژندنه پیل سو. وروسته ***Mats Wennerholm*** چې د سویډن د ښوونځیو د وزارت له خوا د مورنیو ژبو د تیما مسوولیت پر غاړه لري په سویډن کې د مورنۍ ژبې د تدریس پر ارزش او راتلونکې خبرې و کړې. تر ده وروسته ***Kurt Westlund*** چې د مالمو په کمون کې د مالمو لاتین لېسې مدیر دئ په ښوونځیو کې د مورنیو ژبو د تدریس او ښوونکو پر اهمیت باندې خبرې و کړې.
تر دې وروسته د کنفرانس مبلمه ښاغلي حبیب الله ببرکزي ځدراڼ چې په رواڼشناسي کې ډاکتري لري د کنفرانس ګډون کوونکو ته د کوچنیانو او ځوانانو د سلوک او روزنې په هکله خپله وینا واورو له . ډاکتر صاحب د رنګونو او انسانانو د سلوکو تر منځ د رابطې په هکله هم معلومات وړاندې کړ . د ښاغلي ځدراڼ صاحب خبرې دومره په زړه پورې وې چې د کنفرانس ګډون کوونکو د کنفرانس د یوې برخې څخه ډېره و کړه او د ډاکتر صاحب څخه یې غوښتنه و کړه چې خپلو خبرو ته نور هم دوام ورکړي.
د ډاکتر صاحب ځدراڼ د وینا ویډیویي کلیپ
په دوهمه ورځ د پښتو ژبې د پانې مسوول عبدالعلي رسول زاده د پښتو ژبې د نوې پانې په هکله د کنفرانس ګډون کوونکو ته معلومات ور کړ . ده په پاڼه کې د یو شمېر ځای پر ځای سوو تدریسي موادو په هکله معلومات ور کړ او په ګوته یې کړه چې په پاڼه کې به نور هم نوښتونه او پر مختګونه راولي. په پای کې یو شمېر ګډون کوونکو په پاڼه کې د امکان تر حده د ځینو بدلونونو او امکاناتو په اړه نظریې ور کړې. ګډون کوونکو د پښتو دغه پاڼه ګتوره و بلله او په ګوته یې کړه چې د سویډن د ښوونځیو د وزارت د نژدې ۴۰ پاڼو د جملې څخه د پښتو پاڼه یوازنۍ پاڼه ده چې د ښوونکو او زده کوونکو د پاره ګټور مواد او کتابونه پکښې سته.
د کنفرانس په اړه د ګډون کوونکو نظریې:
د کنفرانس په هکله ګډون کوونکو ډېر ښه نظر ښکاره کړ. ټولو د ډاکتر صاحب ځدراڼ خبرې ګټورې ، په زړه پورې او د ښوونکو د کار او تدریس سره برابرې و بللې. او د دا ډول نورو کنفرانسونو د دوام هیله یې و کړه.
ګډون کوونکو د کنفرانس د انتظام څخه خوښي و کړه ، د کنفرانس ډوډۍ ، چای او کافي یې پر وخت او خوندورو و بلل.
ښاغلي زاهد ساحل د کنفرانس څخه راضي وو او د ګډون کوونکو څخه یې غوښتنه و کړه چې د کنفرانس په جریان کې د بې ځایه تلو او را تلو څخه ډډه و کړي او د کنفرانس وختونه دې په نظر کې و نیول سي.
د کنفرانس ګډون کوونکو د عبدالعلي رسول زاده څخه د منني سره سم هیله و کړه چې که دغه کنفرانس د پسرلي په وروستیو ورځو کې وي ډېر به ښه وي. عبدالعلي رسول زاده د دوی هیلې ته په جواب کې و ویل چې دی به کوښښ و کړي چې نور کنفرانسونه په پسرلي کې ترتیب کړي.

ښاغلي رحمت الله سروري داسي نظر ښکاره کړ چي که د کنفرانس د ترتیبولو کار د کنفرانس د ترتیبولو پر مسوول ډېر وي نو د ده نور همکاران حاضر دي چي د ده سره همکاري و کړي. دا کار به د یوې خوا د کنفرانس د مسوول کار ور کم کړي او د بلي خوا به په کار کي نظم هم را سي.
ښاغلي سعدالله مسعود چي د بوروس په کمون کي د ښوونکي په توګه کار کوي و ویل چي دا کنفرانس نه یوازي د تجربو او معلوماتو تبادله ده بلکي په عین وخت کي د هیوادوالو تر منځ د زړه خواله هم دي. ده د ډاکتر صاحب ځدراڼ د معلوماتو څخه د خوښی په ترځ کي زیاته کړه: دا چي ځدراڼ صاحب د ډینمارک په هیواد کي پنځوس کاله ژوند کړئ او بیا یې هم خپله ژبه نه هېره کړې ده او نه یې د خپلي ژبې د خدمت څخه لاس اخیستئ دئ دا یو لوی ویاړ دئ. ده د هغو دوو تنو نارویژیانو په هکله کوم چي په پښتو ژبه یې خبري کولې و ویل چي دوی د پښتو ژبې زده کړه غوره کړې ده په اصل کي دوی پښتو نازولې ده ، کور یې ودان.
د ده شعار دا وو : دا کنفرانس دي نور هم وي ، ګړندی دي وي او پښتو دي ژوندی وي.
Finn Theisen په پاېه کي د کنفرانس د خبر په اړه د تخنیکي ستونزي په باره کي څه مشکل پیدا کړئ وو . د دې ستونزي د حل د پاره به موږ کوښښ و کړو چي په را تلونکي کي د کنفرانس خبر په دارو ژبو پښتو او سویډني و لیکو . دا چي ده پرته له پښتو په زیاتو ژبو خبري کولې دا زیاته کړه چي د پښتو ژبې سره یې ډېره مینه ده او غواړي چي په پښتو خبري و کړي. دی په ناروي کي د یوې کورنۍ سره تماس لري چي د هغو سره په پښتو ژبه خبري کوي.
عزیزې مسعود چي د بوروس په کمون کي ښوونکې د کنفرانس څخه ډېره خوښي ښکاره کړه. دې نظر ور کړ چي که: د پښتو ژبې نورو ښوونکو ته چي په نورو کمونو کي کار کوي د کنفرانس خبر ور کړه سي دا به ښه وي. ځکه یو شمېر ښوونکي د دې کنفرانس څخه خبر نه لري. دې د عبدالعلي رسول زاده څخه مننه و کړه او و یې ویل چي ځو ځله یې دوی ته تلیفون کړئ وو .
د دې نظر په هکله به و وایم چي دا یو ښه نظر دئ. خو دا چي دا پاېه د پښتو ژبې د ښوونکو سره د تدریسي موادو په هکله څه نا څه مرستي کوي نو ښه به دا وي چي په زړه پوري ښوونکي لږ تر لږه په اونۍ کي یو ځل دا پاېه و ګوري. د یوه پلوه به نوي مواد پکښي پیدا کړي او د بله پلوه به د کنفرانس خبر هم په لاس راوړي. خو زه او زما ملګري بیا هم کوښښ کوو چي همکاران خبر کړو.
ښاغلي عبدالسلام اندړ هم د کنفرانس څخه خوښي څرګنده کړه او د ډاکتر صاحب ځدراڼ خبري یې ګټوري او د ارزښته ډکي و بللې. د کنفرانس څخه یې رضایت و ښود. دا ډېره را ته په زړه پوري وه چي پدې کنفرانس کي مي دوه نارویژیان و لیده چي په پښتو ژبه یې خبري کولې.
ګل رحمان حسني د کنفرانس څخه خوښ وو او زیاته یې کړه چي دغه کنفرانس دي په رڼا او توده هوا کي وي. ده و ویل چي دا به ښه وي چي د کنفرانس مېلمه ته ماښام والدین او لوی زده کوونکي را ټول کړو . د یوې خوا به زده کوونکي او والدین د کنفرانس د مېلمه خبري واوري او د بلي خوا به زموږ د شاګردانو فعالیتونه د زده کوونکو د دلسپي سبب و ګرزي.
موږ د جمعي په ورځ د ډیسمبر پر ۴ نېټه ګرانو والدینو ته هم خبر ور کړئ وو چي د ښاغلي ځدراڼ صاحب د معلوماتو څخه ګټه واخلي. دا چي په دغه شپه د افغانانو په یوه کورنۍ کي د خوښی د یوه مجلس د پاره ډېري کورنۍ سره را ټولي سوي وې ځکه نو ډېرو خلکو و نه کولای سوای چي په دغه شپه ګډون و کړي.
شهلا او فضیله چي د مالمو په کمون کي دوې فعاله ښوونکي دي د کنفرانس څخه یې خوښي وکړه . دوی د ډاکتر صاحب ځدراڼ معلومات په زړه پوري و بالله. دوی د ډاکتر صاحب څخه غوښتنه وکړه چي که ممکنه وي

يوه شپه به دوی والدین سره را ټول کړي او ډاکتر صاحب به خپل دا ډول معلومات هغو ته ور کړي . ډاکتر صاحب ځدراڼ د دوی دا غوښتنه و منله.

دوی دا هم را په ګوته کړه چي د کنفرانس په وخت کي دي کوښښ وسي چي د عکسونو او ویډیو اخیستونکي د کنفرانس فضا ګډه وډه نه کړي.

کوم ګډون کوونکي چي د ګاونډي هیواد ډینمارک څخه راغلي وه هم د کنفرانس څخه خوښ وه. دوی د سویډن او ډینمارک د افغانانو تر منځ د ګډي همکارۍ غوښتنه وکړه. دوی و غوښتل چي د هغو افغاني ځوانانو تر منځ چي په ډینمارک او سویډن کي ژوند کوي او په پښتو ژبه او کمپیوټر کي ډېر تکړه دي یوه ګډه همکاري منځ ته را ولي. دوی نه یوازي د دې همکارۍ غوښتنه و کړه بلکي د دې همکارۍ سره یې خپل پوره ملا تړ اعلان کړ .

دوی دا هم و غوښتل چي که کوم وخت دوی د خپلو زده کوونکو او یو شمېر والدینو سره یو ځای د مالمو د ښوونځیو د زده کوونکو او والدینو په کومه غونډه کي ګډون و کړي. په دې غونډه کي به د زده کوونکو تر منځ د زده کړي ، ترانو او شعر ویلو سیالۍ تر سره سي.

مننه

عبدالعلي رسول زاده

مالمو سویډن

۲/ ۱۲ / ۲۰۰۹